# د افغانستان لنډ تاريخ

افغانستان د اسيا د لويي وچي په زړه کي يو لرغونی هيواد دئ. دغه هيواد د تاريخ په اوږدو کي د اجتماعي ، سياسي ، نظامي او اقتصادي ارزش له نظره ډېر مهم موقعيت درلودلئ دئ.

سربېره پر دې د دې مځکي د لومړنيو اوسېدونکو د تاريخ په هکله دقيق معلومات تر لاسه نه دي راغلي. مگر د تاريخ او لرغونپوهني پوهان د هغه سامانونو د څېړنو او تحليلونو له مخي چي د غزني د ناور په منطقه کي د کيندنو په نتيجه کي لاس ته راغلي دي داسي ښکاره کوي چي لږ تر لږه د ۲۰۰۰ څخه تر ۱۵۰ زره کاله پخوا د ننني افغانستان په خاوره کي داسي انسانانو ژوند کړی دئ کوم چي په ښکار بوخت ول.




په سمنگان کي د قره کمر او هزارسم د غارونو د کيندنو څخه داسي سامان او الات لاس ته راغلي دي چي د ډبري او د حيواناتو د هډوکو څخه جوړ سوي دي. دغه سامان الات ښکاره کوي چي پر دغه مځکه د ۱۰۰ څخه تر ۷۰ زره کاله تر مخه له نن څخه انسانانو ژوند کړی دئ.

لرغون پېژندونکي په دې باور لري چي پدغه مځکه کي تر ۲۰۰ زره کاله مخکي له نن څخه خلکو ژوند پيل کړی دئ او تر نن ورځي پوري ئې د تکامل مختلفي مرحلې تيري کړي دي. خو دلته ئې موږ په ډېر لنډه ډول د اريايانو له زمانې څخه بيا تر نن ورځي پوري لولو.

# آريــايان

نژدي ۲۵۰۰ کاله له مخه تر ميلاد د آمو د رود په شمالي برخه کي د سپين پوستو خلکو يو لوى جمعيت ژوند کاوه . دوى په کښت او کرهڼه بوخت ول . دا چي دوى په کښت بوخت ول ځکه ئي ځانونه اصيل او نجيب بلل . دي خلکو کوچي ژوند درلود . دوى خپل د اوسېدو ځای د اريانا وېجه او هغه ژبه چي دوى خبري په کولې د آريک په نامه بلله او دغه خلک آريايان وه . دا چي د آريايانو شمېر زيات سو نو د آمو د سيند جنوبي برخو او باختر (اوسنی بلخ) ته راغله او د هندوکش د غرو په شمالي او جنوبي لمنو کي استوګن سول .

دغو خلکو د نفوسو د زياتوالي له کبله د شرق خوا ته هجرت وکړ ، د سيند تر رود ور واوښتل او د شمالي هند په پراخو اورشوګانو کي استوګن سول . اريايانو دوه مدنيتونه منځ ته راوړل چي دلته لاندي به ئې و لولئ :

## ويدي مدنيت :

د آريايانو هغه ډله چي د شرق خوا ته مهاجره سوه ، د سيند تر رود تېر سوه او د شمالي هند و پراخو مځکو ته ئي ځان و رساوه . هلته ئي يو نوى مدنيت جوړ کړ . دوى دغه مدنيت د ويدي په نامه ياد کړ ۱۴۰۰ ق م . ويدي مدنيت څلور کتابونه لري چي د سانسکريټ په ژبه او په نظم ليکل سوي دي . د دغو کتابو نومونه :

۱ـ يګ ويد

۲ ـ سام ويد

۳ـ اتهروا ويد

۴ـ يجور ويد

کله چي دوى د شمالي هند پراخو سيمو ته مهاجر سول هلته ئي د هغه ځاى خلک چي (دراويديان) نومېدل په زور له هغې خاوري څخه و ايستل او د هغو ۵۰۰۰ کلن مدنيت ئي ور رنګ کړ . دوى هلته ويدي مدنيت پيل کړ چي ډېري لاسته را وړني ئې لرلې . دوى د نن ورځي د الجبر او استرانومي بنسټ هلته کښېښود .

هغي ډلي آريايانو چي د هند پراخو اورشو ګانو ته کوچ وکړ هلته ئي خپله مځکه د آريه ورته

یا آریه ورشه په نامه و بلله چي تر اوسه پوري په پښتو کي ورشو د مځکي په معنی په خبرو کي راځي .

## اویستایي مدنیت :

د آریایانو دوهم مدنیت د افغانستان په بخدي (بلخ) او د هندوکش په شمالي برخو کي وو . دغه مدنیت په ۱۲۰۰ ق م کي شروع سوی دئ ، کتاب ئې د (اویستا) په نامه او مدنیت ئې د اوستایي مدنیت په نامه یادیږي . د اوستا څخه داسي معلومیږي چي آریایي قومونو په بخدي (بلخ) کي ډېر ښکلی مدنیت جوړ کړ او د مالداری ، ښکارکولو ، کوچي توب ، کښت او کروندي پر ځای ئې ښاري او مدني ژوند پیل کړ او د استوګني ښکلي ځایونه ئې جوړ کړل .

په دغه دوره کي د لومړي ځل لپاره په بلخ کي د پاچاهۍ سازمان منځ ته راغی ، (یما) ئې لومړنی پاچا وو چي د بلخ ښار ئې جوړ کړ .

په دغو خلکو کي یو معین دین منځ ته راغی چي ځانته ئې مدني او روحاني قوانین او لارښوودني درلودې .

د دغه دین اساس اېښوودونکی (زردشت) نومېدی . زردشت د (یوه) خدای وجود ته عقیده درلوده او خلک ئې نورو خدایانو ته له عقیدي در لودلو څخه د یوه خدای عبادت ته را و بلل . ده د حیواناتو قرباني کول او د سوما د بوټي د شرابو چیښل چي په آریایانو کي ئې رواج درلودل له منځه یوړل . زردشت دري ښځي درلودې .

## په افغانستان کي مختلف قومونه :

د لاندنۍ نقشې له مخي چي د ملګرو ملتو له خوا ترتیب سوې ده کولای سو د هغو قومونو د اوسېدو ځای را ته معلوم سي کوم چي په افغانستان کي ژوند کوي :

په افغانستان کي مختلف قومونه




**پوښتني:**

1ـ افغانستان د کومو هیوادونو سره سرحد لري؟

2ـ اریایان څوک وه، چیري ئې ژوند کاوه او څه وخت؟

3ـ ویدي او اویستایي مدنیتونه چیري او د چا د خوا منځ ته را غله؟ کتابونه ئې کوم وه؟

4ـ افغانستان د تاریخ په اوږدو کي کوم نومونه در لودلي دي او په کومو وختونو کي؟

5ـ یما او زردشت څوک ول او چیري ئې ژوند کاوه؟